شهسوار سنگروال
۲۰۲۰/۱۲/۲۲

# په هند کې د لودیانو برى او د ماتې لاملونه

د غور د دنگو غرونو اتلان نه یوازې د تاریخ په پانو کې ستایل شوي دي بلکې په کیسو او استورو کې هم د دوی یادونه شوې ده.

د دغو هسکو غرونو د اتلانو په لړ کې یو هم لودي ټبر دی چې د غور په غرونو کې تم نشول او د هند تر نیمې وچې پورې ورسېدل.

موږ د نړی یو شمېر بېلابېل ټبرونه او وګړي پېژنو چې په لومړي سر کې یې ډېر وروسته پاتې ژوند درلود خو د وخت په تېروېدو یې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند کې ډېرې بریاوې په برخه شوې.

که چېرې افغا نا ن د تاریخ په رڼا کې وڅېړو ډېرې داسې بېلګې مومو چې دغه ټبر له خپل ابتدايي ژوند نه را واخله تر پادشاهی پورې رسیدلي دی .

موږ د بېلګې په توګه لودیان یادوو، چې له نن نه تقریباً زر کاله د مخه یې په ملتان کې د یوې واکمنی بنسټ کېښود. خو له بده مرغه چې د خپلو افغانانو له لاسه د غزنوي محمود په پلوی وځپل شول او د ملتان افغاني سلطنت یې ړنګ کړ.

همدغو افغانانو بیا د سلطان محمود د واکمنی د ټینګښت لپاره په سر کې همدغو لودیانو چې لودي ملک سلیمان د بېلګې په توګه یادولی شو، د دوی په مشرۍ د هندوستان په غزاګانو کې برخه واخسته.

کله چې غوري شهاب الدین په هندوستان برید وکړ بیا هم همدغه ملتاني لودیان وه چې چې د ده ملا یې وتړله او د لودي ملک محمود په ډېرو هاندو هڅو د لودیانو په مټ د غوري شهاب الدین نامتو سپه سالار بختیار خلجي په تبت او اسام بریالي بریدونه وکړل له غوریانو نه وروسته چې د هند لودیان، ورپسې سوریان... له غلجیانو نیولې ان تر احمد شاه ابدالي پورې کله چې یو د بل پسې واک ته رسېدلي دي د ملتان لودیانو ونده په کې د پام وړ ده.

هېڅ واکمن ټبر په ناڅاپي توګه واک ته ندی رسېدلی بلکې د خپلو خلکو په مټ او مېړانه، په خپلې سر ښند نې او ځان تېرېدنې یې د واکمنی جوغه په سر کړې ده.

»لودي بهلول په ناڅاپي توګه واک ته ندی رسېدلی بلکې همدغه پښتانه مشران وه چې یو نسل بل ته د دې وس برابر کړی دی چې یو د بل پسې پښتانه مشران د تاج و تخت څښتنان شي.« ۱

د تاریخ مرصع له څرګندونو نه ښکاري چې د سلطان بهلول د کارنامو په تړاو، د ده له قوله کاږلي دي چې په هندوستان کې د پښتنو زور او ځواک د نورو سیمه ییزو واکمنو په پرتله ډېر وه .نو ځکه خو لودي بهلول د خپل قوم په مټ واک ته ورسېد. »دا یو څرګند حقیقت دی کله به چې پښتنو واکمنو په هندوستان کې د واک د کمزورۍ ټنګسه راغله نو دوی به پښتنو سیمو ته له پېښوره را واخله تر غزني او کسي غره شاوخوا سیمو پورې احوال ولېږه نو بیا به یې نور پښتانه ځوانان را وبلل...۲

دا کار لودي بهلول هم د خپل واک او ځواک لپاره کړی دی چې په هندوستان کې د خپل قدرت لمن پراخه کړي .لودي بهلول د تاریخ مرصع په حواله ویلي دي:

»پېچل ملک کښ عمر په ستونزواو فقر تېره وي غواړم چې دوی له وطن را طلب کړم او منصب جاګیر په هندوستان کښ ورکړم چې له تنګی او تنګ خرڅی څخه خلاص شي او زه هم به په قوت او په مد د د دوی په خپلو غلیمانو غالب دست شم واړو په فکر د بهلول افرین ووی... بې شماره پښتانه له کوهستانه دروه په ملازمت د سلطان راغلل.«(۳

لودي بهلول د ملک کالاخان زوی د بهرام لمسی د احمد کروسی د شاهوکودی کېږي. چې شاهو بیا د اسحاق زوی او د پرنګي لمسی، د سیاني کړوسی او د لودي کودی کېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دا چې د لودي بهلول تېرسوي،څرنګه تر هندوستانه ورسېدل په دې اړه د افغانستان د قومونو په تاريخ کې راغلي دي: «د فېروز شاه د واکمنۍ په مهال د لودي بهلول نيکه «بهرام» له خپل مشر ورور نه خپه شوملتان ته لاړ. نوموړی هلته حکومتي ملازم شو خو کله چې خضر خان د فېروزشاه لخوا د ملتان په حکومت وټاکل شو، بيا خضر خان ته ورغی او هغه له ځان سره ونيوه.»(۴

کله چې د خضر خان دښمن ملو اقبال خان د لودي بهلول د تره لخوا له مينځه لاړ نو خضر خان ده ته د «اسلام خانی» او د هند وياړلی باوري لقب ورکړ او د «سرهند» حکومت يې هم ور وسپاره.
سلطان شاه خپل ورور ملک کالا خان د بهلول پلار بيا د ملتان له صوبه دار «نصرخان» سره ملازم کړ.
لودي بهلول په داسې مهال په ملتان کې زوکړی شو، چې مور يې دخونی دولېدلو له کبله په ۸۱۴ هـ کال مړه شوه او بيا د مور له مړينې وروسته وزېږېد.
د ده له زوکړې نه اووه (۷) کاله وروسته تره يې سلطان شاه د خضر خان لخوا د سرهند حکومت مشر وټاکل شو.
نوموړي پرته له ملک کالاخان نه نور ټول وروڼه له ځان سره سرهند ته يوړل. د بهلول پلار کالاخان په ملتان کې وه چې له بده مرغه له نيازيو پښتنو سره په يوه جګړه کې ومړ.
د لودي بهلول تره اسلام خان چې وروسته د ده خسر هم شو د خپل مشر ورور کونډه يې له ځان سره سرهند ته يووړه، په لوی خان اسلام خان بهلول دومره ګران وه چې ټولو به له ډېره نازه«بلو» باله. همدغه بلو وه چې په لودي بهلول ياد شو او په پای کې د هندوستان ټولواک شو.
لودي بهلول څرنګه واک ته ورسېد؟
لودي بهلول لومړی د اسونو سوداګري کوله او د خپلو ترونو هريو د اسلام خان او فېروز خان په باور به يې له پښتونخوا نه اسونه راوستل او بيا به يې په هندوستان پلورل.
د ۸۳۷ – ۸۴۷ هـ کالو په مينځ کې لودي بهلول دومره مشهور شو چې د خپل اکا اسلام خان په پېژند ګلوی د سلطان محمد شاه حضور ته ورغی د ده اسان يې ډېر خوښ کړل او بيا يې په قېمت کې ورته د پنجاب د لويې سيمې ماليه ورکړه.
له يوې خوا د ملک بهلول زياتېدونکی شهرت وه چې د خپلې زړورتيا او ځيرکتيا له مخې يې له ياغيانو نه ماليه ټولوله او له بلې خوا د سلطان محمد شاه کمزوري وه چې د ده د واک لاندې سيمې يو د بل پسې پاڅېدلې.
سلطان چې د نوموړي زړورتيا وليده نو ده ته يې د هغې سيمې د ايل کېدو امر ورکړ چې کلونه کلونه ياغي وه. ملک بهلول په ډېره زړورتيا له هغو څخه ماليه هم را ټوله کړه او بيا برياليی ډيلي ته را ستون شو. دا هغه مهال دی چې اسلام خان خپله لور «شمسو بي بي» په نکاح ورکړه. له دې سربېره اسلام خان کوښښ کاوه چې خپل وراره له خپلو زامنو وړاندې وښيي دا ځکه چې ده په بهلول کې داسې څه ليدل چې د ده له مرګ نه وروسته، دی کولای شي چې د سرهند حکومت اداره کړي.
همدا لامل وه چې په ۸۴۰ هـ کال کله چې اسلام خان ومړ، نو بيا يې د سرهند واک پخپل لاس کې واخست. ولې له بده مرغه چې د اسلام خان زوی قطب خان او کاکا يې فېروزخان له ملک بهلول سره مخالف شول.
خو ده کوښښ وکړ، چې خپل تره په خوا کې ونيسي او خپل ځان پياوړی کړي .کله چې سلطان محمد شاه خبر شو نو بيا يې د ملک سکندر جنګ او نورو ځواکونو په ملتيا امر وکړ، چې بهلول لاس تړلی ډيلي ته راولي.
پښتنو چې دومره لوی ځواک وليد، نو غوره يې وګڼله چې له سرهند نه غرو ته مخه کړي. کله چې ملک سکندر ډګر خالي وليد نو ځواب يې واستوو چې ولې مو مېنې پرې اېښې دي ؟راشئ چې د خبرو له مخې ستونزې حل کړو.
بهلول پدې پوهېده چې دا يو غولوونکی ګواښ دی، بيا هم تره يې ملک فېروز خان راغی ولې کورنۍ يې بيا هم بهلول او خپل زوی شاهين خان ته پرېښوده.
ملک سکندر او جسرت نه يوازې د فېروز خان په بند او د ده د ملګرو په وژنه اکتفاء ونکړه بلکې د دوی د کورنۍ د نيولو لپاره غرو ته مخه کړه .ډېر پښتانه يې ووژل ان دا چې د شاهين خان او د ده د ملګرو ککرۍ يې سرهند ته واستولې او بيا يې فېروز راوغوښت چې د خپل زوی ککرۍ درباريانو ته ور وښيي.
نو هره ککرۍ به چې فېروز خان ليده نو ورته به يې ويلې پېژنم يې. کله چې د زوی شاهين ککرۍ ورښکاره کړه ويلې نه پېژنم. د لښکر څو تنو وويل : دا سړی له موږ سره په ډېرې زړورتيا وجنګېد .نو بيا فېروز خان وويل :هو، دغه ننګيالی پېژنم، دا زما د زوی شاهين خان ککرۍ ده.
جسرت ورته وويل چې ولې دې د مخه انکار وکړ ؟ ما ويل نه چې په مېړانه نه وي مړ شوی .اوس شکر پوه شو چې مېړنی بهلول ژوندی دی، هغه به هرومرو له تاسو کسات واخلي.
ملک بهلول له پښتنو ځوانانو نه يو پياوړی لښکر تيار کړ او په داسې حال کې چې تره يې فېروز خان هم له زندانه تښتېدلی وه . د تره زوی قطب خان هم پېښو اوښيار کړی وه، نو ځکه دوی هم متې را ونغاړلې او مېړني يې په ځان را ټول کړل.
د ډيلي حکومت د بري جشن ونيو او بيا يې نايب السلطنه شرقي، چې په حسام خان هم يادېده د يوه لوی، لښکر سره د لودي پښتنو د ځپلو لپاره سرهند ته را روان شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لودي بهلول د خضر اباد او شاهپور تر مینځ سیمه کې پرې خونړی برید وکړ، نه یوازې یې د سرهند د پښتنو کسات واخست بلکې شرقي په ډېره بده ورځ مخ په ډیلي بېرته ستون شو.
بهلول پدې فکر چې د واک خپلول په توره نه، بلکې یوه داسې سیاسي چلند ته هم اړتیا ده، چې دښمن داسې ووهي چې د ده ځواک ته پکې زیان و نه رسېږي.
نو په همدې بنسټ یې یو لیک سلطان محمد شاه ته واستوه، چې زما او ستا تر مینځ سیاسي بې باوري د حسام خان لخوا را مینځته شوې ده. ښه به وي چې نوموړي پر ځای حمید خان وټاکل شي او زه ستا هماغه پرونی نوکر یم.
سلطان د حسام خان کمزوري په خپلو سترګو ولیده، چې له جګړې نه تښتېدلی وه نو د ملک بهلول لیک یې ومنه نوموړی یې وواژه او پرځای یې حمید خان وټاکه.
لدې پېښې وروسته یو شمېر سیمه ییز واکمن زړور شول .په سر کې خلجي سلطان محمود دستي خپلې لښکرې پر ډیلي ور وخېژولې. سلطان محمد شاه ته چې د ملک بهلول توره څرګنده وه، نو بهلول یې له سرهنده ډیلي ته وغوښت چې د «مالوې» د لښکرو په وړاندې ودرېږي.
ملک بهلول د خپلو شل زرو ځوانانو پرمټ د هغه مخې ته ودرېد. په دغه وخت کې د هند یوه بل سیمه ییز واکمن سلطان احمد شاه د مالوې په پلازمېنې برید وکړ. سلطان محمود ډېر ژر په همدې پلمه ستون شو او بیا بهلول پرې برید پیل کړ، چې په پایله کې خلجي محمود وتښتېد او ډېرې وسلې او ولجې د لودي بهلول لښکر لاسته ورغلې.
لودي بهلول بیا جسرت ته مخ واړاوه او هغه بیا د سولې وړاندیز وکړ او په څنګ کې یې د ډیلي سلطنت مبارکي هم ورکړه. نوموړي نه غوښتل چې له هر چا سره دښمني وکړي .نو د هغه وړاندیز یې ومانه.
د بهلول له دغه بري وروسته له لاهوره نیولې تر پاني پټ پورې ملک پخپله ولکه کې را ووست. ولې کله چې سلطان محمد شاه د درباریانو په لمسون، په ۸۴۶ هـ کال لودي بهلول د یوه لیک په ترڅ کې و ګواښه .نو دا وه چې د دواړو لورو تر مینځ اړیکې خرې پرې شوې.
له دې کبله لودي بهلول دا غوره وګڼله چې ځان د سرهند سلطان اعلان کړي. ولې په دې هیله وه چې د ډیلي له نیولو وروسته به خطبه او سکه د ده پنوم اړول کېږي.
لږه موده ورسته د ۸۴۷ هـ کال په پای کې سلطان محمد شاه ومړ او په ځای یې زوی سلطان علاوالدین د «عالم شاه» پنوم پاچا شو.
د ده دواکمنی په مهال لا سیمه ییزې واکمنۍ ډېرې شوې ان دا چې د ډیلي په څو کیلومترۍ کې یو سیمه ییزه واکمنی د دریا خان لودي وه .که له یوې خوا سلطان بهلول په لاهور کې د خپل واک د پراختیا جشن نیوه او له بلې خوا یې غوښتل چې له کسې غره نه پښتانه مېړني د ډیلي د نیولو لپاره را وغواړي او دریمه دا چې د حمید خان لخوا ډیلي ونیول شو او خپل سلطنت یې اعلان کړ.
لودي بهلول په ډېرې چټکۍ ځان ډیلي ته و رسوه او کله چې له حمید خان سره ولیدل نو ورته وې ویل پاچاهي دې مبارک شه. نو هغه ورته کړه زه یو سرتېری او ستا سپه سالار یم زما یې له پاچاهی سره څه!؟
په پای کې خبره دې ته ورسېده چې د حمید خان او بهلول په مینځ کې درباریانو داسې درز واچوه، چې لودي بهلول دې ته اړه شو چې بشپړ واک ترلاسه کړي. عالمشاه خپل ځان بهلول ته نږدې کړ او ځان یې تر دغه وخته قانوني پاچا ګاڼه .نوبیا یې له پاچاهی استعفا وکړه او بهلول یې د پاچاهی وړ وګاڼه.
بهلول ۲۶ کلن وه ډیلي کې خطبه د ده په نوم وویل شوه او پاچا شو.
کله چې لودي بهلول د هند د چارو واک ترلاسه کړ په پوره ځیرکتیا یې د حکومت چارې جوړې او سمې کړې. ولې بیا هم د ده دښمنان ارامه کېناستل د ده په وړاندې ودرېدل.
د هند هېواد په بېلابېلو سیمو کې سیمه ییزه واکمنو او ان د ډیلي د تخت وارثینو د ده په ضد د جګړې اعلان وکړ چې موږ سلطان محمود شرقي د ښلګې په توګه یادولی شو.
نوموړي درې خونړي بریدونه وکړل .ولې نه یوازې سلطان بهلول د خپل افغاني غرور له مخې په شا نشو، ان د ده خوابنې او د اسلام خان کونډې مستو بي بي هم د یوې مېړه مخې مېرمن په څېر د شرقي د بریدونو په وړاندې کلکه ودرېده او د هغه بریدونه یې په شا وتمبول.
له ده نه پرته سلطان محمد شاه شرقي چې د سلطان محمود شرقي له مړینې ورسته «بي بي راجي» د ده په ځای پاچا کړ، همدا ډول د محمد شاه شرقي له مړینې وروسته سلطان حسین شرقي، میوااتي احمد خان، د کشمیریانو بریدونه او په لسګونو نورې جګړې یادولی شو.
ولې بیا هم مېړني بهلول د دې ټولو بریدونو مخه ونیوه او په ډېرې اوښیارۍ یې ۳۸ کاله، ۸ میاشتې او ۸ ورځې پاچاهي وکړه او د (۸۰) اتیا کالو په عمر مړ شو چې اوس یې هدیره په هغه کلا کې چېرته چې د نصرالدین چراغ هدیره ده .یانې د زاړه ډیلي په هغه کلا کې چې هر دېوال یې دوه کیلو متره اوږدوالی لري .

(نوربیا)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ